# د ناڅرګنده ټي بي په اړه ستاسو د علاج په باره کښې

**ټي بي څه دي؟**

نرۍ رنځ (ټي بي) یوه ناروغي ده چې د بکټریا نه جوړیږي. کله چې د ټي بي نه متاثره وګړي وټوخیږي او یا انتوسي اوکړي، نو هغوئ د ټي بي بکټریا هوا ته شامله کړي. که تاسو دغه بکټریا د سا د لارې تیره کړئ، په د لاندې درې خبرو کښې به یوه اوشي:

- ستاسو د بدن دفاعي نظام د ټي بي بکټریا مړه کړي او دغه رنګ هغه به تاسو ته ضیان نه دراورسوي، نه اوس او نه په آئنده کښې
- د ټي بي بکټریا به تاسو ناروغه کړي – دې ته **فعاله ټي بي** وئیلې شي
- د ټي بي بکټریا ستاسو په بدن کښې اوده پاتې شي – دې ته **ناڅرګنده ټي بي** وئیلې شي

**د فعاله ټي بي په باره کښې**

کله چې خلک د ټي بي په باره کښې خبره کوي، نو د دې نه د هغوئ مطلب 'فعاله ټي بي' وي. که ستاسو فعاله ټي بي وي، بکټریا تاسو ناروغه کوي او کیدې شي چې ستاسو ټي بي نورو ته انتقال شي. فعاله ټي بي ستاسو صحت ته ډیره خطرناکه هم کیدې شي، خو د دې علاج د درملو د یو کورس په ذریعه کیدې شي.

**د ناڅرګنده ټي بي په باره کښې**

که تاسو ته ناڅرګنده ټي بي وي، نو د ټي بي بکټریا ستاسو په بدن کښې 'اوده' وي. تاسو نه ناروغه کیږئ او ستاسو ټي بي نورو وګړو ته هم نه انتقال کیږي. ولې، کیدې شي چې دا بکټیریا په آئنده کښې'را ویښه' شي، او تاسو د فعاله ټي بي په ناروغي اخته کړي. ښه خبره دا ده چې د ناڅرګنده ټي بي **علاج وشي ممکن دې** چې د دغه پیښو مخنیوې اوکړي.

که تاسو د بي سي جي (BCG) واکسین هم خوړلې/ اخستې وي، بیا هم تاسو ته فعاله او یا ناڅرګنده ټي بي کیدې شي.

**ما ته به څرنګ پته لګي چې زما ناڅرګنده ټي بي ده؟**

که ستاسو ناڅرګنده ټي بي وي، تاسو کښې به هیڅ علامات نه وي. لپاره د دې چې معلومه کړئ چې ستاسو ناڅرګنده ټي بي شته او که نه، واحده طریقه دا ده چې تاسو د خپلې وینې او یا د پوستکي معائنه/ټیسټ اوکړئ. که ستاسو ناڅرګنده ټي بي وي، نو تاسو ته اوس درکړې کیدونکي درمل به بکټریا د ویښیدو او تاسو ته د ضیان رسولو نه وړاندې مړه کړي.

مخنیوې د علاج نه بهتر دې

**آیا زما ټي بي به فعاله ټي بي ته وده اومومي؟**

د ناڅرګنده ټي بي نه متاثره وګړو کښې تر لس (۱۰) فیصدي (یو په لسو کښې) پورې دا امکان لرې چې مرض/ناروغي به یې په آئنده کښې تر فعاله ټي بي پورې زیاته شي. د دې هیڅ هم طریقه نشته چې دا معلومه شي چې تاسو په دغو کښې یو یئ او که نه. دا هم ممکنه دا چې د ټي بي بکټریا د ستاسو بدن ته د ننوتو نه یو څو کاله ورسته هم تاسو ته فعاله ټي بي اوشي. د دې لپاره دا ښه دي چې تاسو د ناڅرګنده ټي بي علاج اوکړي او خپل دماغ/ماذغه په ارام/سکون کړئ، کله چې تاسو صحتمنده یئ او بکټریا راویښه شوې نه وي.

د ناڅرګنده ټي بي ټیسټونه او علاج وړیا دې او دا محرم ساتل کیږي.

**د ناڅرګنده ټي بي د معالجې لپاره ماته څه پکار دې؟**

د مرکوب وژونکي (اینټي بائیوټک) درملو کورس به د ناڅرګنده ټي بي علاج اوکړي شي. کیدې شي چې تر درې میاشتو پورې تاسو ته ریفامپیسین *(Rifampicin)* او آیسونیازیډ *(Isoniazid)* درکړې شي (کوم به چې عموماً د یوې ګولۍ په شکل کښې یوځای وي چې د ریفانه *(Rifinah)* په نوم یادیږي) او یا صرف آیسونیازیډ *(Isoniazid)* تر شپږو میاشتو پورې.

ستاسو ډاکټر او یا د ټي بي متخصصه نرس به تاسو ته د معالجې په اړه وضاحت اوکړي او د ستاسو د سوالونو، چې تاسو یې لرئ، ځواب به درکړي. دا یقیني کړئ چې هغوئ ته د هغه درملو په باره کښې اووایئ چې تاسو یې فعلاً خورئ، په شمول د پیدائش د کنټرول د ګولیو، ځکه چې کیدې شي دا په صحیح ډول کار اونکړي کله چې تاسو د ټي بي درمل خورئ.

## د ناڅرګنده ټي بي د معالجې په حواله ما ته د څه پوهې ضرورت دی؟

خپل درمل په منظمه توګه خورئ او پوره کورس ختم کړئ. د دې معالجې د صحیح کار کوولو لپاره مهمه ده چې تاسو ټول درمل په تجویز شوي اندازه واخلئ.

- خپلدرمل روزانه په یوشان وختونو اخورئ/واخلئ.
- د معالجې په کتابچه کښې هغې ورځې ته نشان اوکړئ چې تاسو یې درمل اوخورئ.
- همیشه خپل درمل په یو ځاي کښې ږدئ.
- هفته وار ویشونکي (د درملو باکس) استعمالوئ
- د خپل درملو د خوړو لپاره الارم اولګوئ.
- د خپل فامیل غړي او یا ملګري ته اووایئ چې تاسو ته د درمل اخستنه درپه یاد کړي.

*خپل درمل د ډوډۍ د وختونو په مینځ کښې اوخورئ او د الکوحل نه پرهیز اوکړئ.* کوښښ اوکړئچې خپل د ټي بي درمل د ډوډۍ نه یو ساعت وړاندې او یا د ډوډۍ نه دوه ساعته ورسته اوخورئ. تاسو هر شې خوړې شئ کوم چې ستاسو خوښ وي، خو تاسو باید د الکوحل څښلو نه پرهیز اوکړئ.

*د درملو منفي ردعمل په یاد اوساتئ او خپل ډاکټر او یا نرس ته هغه بیان کړئ څکه چې هغوئ به د دې سره معامله کښې ستاسو مرسته اوکړې شي.* د ټولو درملو سره، منفي ردعمل کیدې شي. څنې میانه وي، خو څنې سنګین وي. ستاسو د معالجې په اساس باندې، کیدې شي چې تاسو دا لاندې منفي ردعمل مشاهده کړئ:

| جانبي عوارض (Side effects) | ریفانه (Rifinah) [ریفامپیسین (Rifampicin) او آیسونیازیډ (Isoniazid) په مرکب کښې] | آیسونیازیډ (Isoniazid) |
|---|---|---|
| د ابنکو، د لیاړګو، متیازو او د نورو بدني مائعاتو نارنجي داغونه – دا نقصاني نه دي خو کیدې شي چې د سترګو عدسي (کونټیکټ لینزونه) داغي کړي. | هو | |
| د زکام په شان علامات | هو | |
| د زنانهٔ په مهواري کښې بې ترتیبي | هو | |
| د هارمونو په کارکردګي کښې کموالې | هو | |
| د اندامونو میږي کیدل | هو | هو |
| سپومي او خارښت | هو | هو |
| بیماري او یا پیچس | هو | هو |

دا درمل ډیر کم د زیري سبب جوړیږي، کوم کښې چې پوستکي او سترګي زیړې شي. کیدې شي چې ریفامپیسین *(Rifampicin)* او آیسونیازیډ *(Isoniazid)* ستاسو د سترګو دید/نظر هم متاثره کړي،خو دا هم په ډیرو کمو کیسونو کښې کیږي. بیا هم که تاسو په دې منفي ردعملونو کښې یو هم مشاهده کړئ، خپل د ټي بي درمل خوړل بند کړئ او فوراً د یو ډاکټر او یا د نرس سره خبره اوکړئ.

*دا یقیني کړئ چې تاسو خپلو ټولو کلنیکي لیدنو ته حاضر شئ او د خپل ډاکټر او یا نرس سره په رابطه کښې اوسئ.* ستاسو ډاکټر او نرس ستاسو د مرستې او ملاتړ لپاره دي. هغوئ ته اووایئ که چرې تاسو نه کله هم د درملو خوراک پاتې شوې وي او یا تاسو ته د خپلې معالجې د یاد ساتلو په اړه د مرستې ضرورت وي. تاسو کولاي شئ چې په دې کمکۍ پاڼه کښې خپله د معالجې کتابچه (ډائیري) ډکه کړئ او هغه شیان هم پکښې د یاداشت لپاره اولیکئ کوم چې تاسو خپل ډاکټر او یا نرس ته ذکر کوول غواړئ.

## کله چې زه خپل علاج ختم کړم، آیا زه به د ټي بي نه د همیش لپاره خلاص شم؟

د دې امکان هر وخت وي چې تاسو په آئنده کښې بیا د ټي بي بکټریا د سا د لارې تیر کړئ. د زیاتره خلکو لپاره د دې امکان ډیر کم دې خو دا ډیر ګټور دې چې تاسو د فعاله ټي بي د بنیادي علاماتو نه خبر یئ او د خپل ډاکټر سره لیدنه اوکړئ که په لاندنیو علاماتو کښې تاسو کښې کوم یو هم وي:

- ټوخې چې تر درې هفتو پورې وي او یا د دې نه زیات وي
- تبه (اوچت حرارت/ټمپریچر)
- د شپې خولې کیدل
- د وزن کمیدل
- لوږه نه لګیدل
- ستړې کیدل

## چرته نه زه مشوره او مرسته ترلاسه کولاي شم؟

| |
|---|
| ستاسو د ټي بي متخصصه نرس ده: |
| په شفاخانه کښې ستاسو ډاکټر دې: |
| تماسي شمیره: |
| بریښنالیک: |

**د ټي بي خبراوی:** د انګلستان د توبرکلوز ناروغی لپاره ملي بنیګنه

ټیلیفون: ۰۱۲۷۳ ۲۳۴۰۲۹

بریښنالیک: info@tbalert.org

www.tbalert.org • www.thetruthabouttb.org

## د معالجې کتابچه/ډائيري

خپل ډاکټر او نرس ته اووايئ چې تاسو ته هغه تاريخونه/نيټې روښانه کړي کومو کښې به چې تاسو په معالجه باندې يئ. تاسو بيا هغه ورځې يوه يوه نښه کولاي شئ چې تاسو يې درمل خورئ. تاسو خپل د کلينک د ليدنې وختونه هم په دې کښې ليکلې شئ.

د ناځرګنده ټي بي معالجه په وينا کښې کيدې شي چې ډيره ستونزمنه وي، خو تاسو به ژر په خپله ډائيري/کتابچه کښې د معالجې ټولې ورځې نشاني کړئ. بيا به تاسو ته معلومه شي چې تاسو د خپل صحت ساتنه اوکړه او د خپل فاميل او د دوستانو هم.

| میاشت | 1 | 2 | 3 | 4 | 5 | 6 | 7 | 8 | 9 | 10 | 11 | 12 | 13 | 14 | 15 | 16 | 17 | 18 | 19 | 20 | 21 | 22 | 23 | 24 | 25 | 26 | 27 | 28 | 29 | 30 | 31 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| میاشت | 1 | 2 | 3 | 4 | 5 | 6 | 7 | 8 | 9 | 10 | 11 | 12 | 13 | 14 | 15 | 16 | 17 | 18 | 19 | 20 | 21 | 22 | 23 | 24 | 25 | 26 | 27 | 28 | 29 | 30 | 31 |